# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ مجله

پنځلسم کال، ۱۷۸ مه ګڼه د ۱۴۴۳ کال د شوال (۱۴۰۱ غویي) میاشت


## د ګرځندوی صنعت او په اقتصادي وده کې د هغه مثبت رول



# ګرانو هیوادوالو!

څرنګه چې تاسو ته معلومه ده چې د افغانستان بانک په ۱۴۰۰/۸/۱۲ نېټه سوداګریزو بانکونو ته متحدالمال مکتوب صادر کړی دی چې پر بنسټ یې هغه پېرودونکي چې له پورته یادې شوې نېټې څخه وروسته په بانکونو کې خپل امانتونه ږدي، کولای شي له کوم محدودیت پرته یې له یو حساب څخه بل حساب ته ولېږي او یا یې په بشپړه توګه تر لاسه کړي.
همدا ډول د افغانستان بانک له ژمنې سره سم په هڅه کې دی څو په دې برخه کې ګرانو هیوادوالو ته ډېرې اسانتیاوې برابرې کړي او د بانکي نظام کړنې عادي حالت ته راوګرځوي.

---

# هموطنان عزیز!

طوری که در جریان قرار دارید د افغانستان بانک به تاریخ ۱۲/۰۸/۱۴۰۰ متحدالمال را به بانکهای تجارتی صادر نموده که بر اساس آن مشتریان محترم که پس از تاریخ تذکر داده شده، سپرده گذاری می نمایند، آنرا بدون محدودیت مقداری می توانند از یک حساب به حساب دیگر انتقال یا بصورت مکمل بر داشت نمایند.
با این حال، د افغانستان بانک طبق وعده خود در تلاش است تا سهولت های بیشتر از این را برای مردم عزیز خود فراهم نموده و فعالیت نظام بانکی را بشکل نورمال در آورد.





## د ګڼې لړلیک / مطالب مجله


| د ګڼې لړلیک / مطالب مجله | مخ |
|---|---|
| د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه | ۲ |
| دیدار با نماینده ویژه اتحادیه اروپا برای افغانستان | ۳ |
| په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام له مشر ښاغلي عبدالله الدرداري... | ۴ |
| د آیوفي (AAOIFI) په کنفرانس کې د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو ... | ۵ |
| ملي پولي واحد او په افغانستان کې د افغانۍ بانکنوټونو د چاپ تاریخچې ته لنډه کتنه | ۶ |
| چگونگی فعالیت بانکها و نقش آن در گسترش تجارت و رونق اقتصادی | ۱۰ |
| د مسلکي پوهې او مالي سواد شتون، ستاسې سوداګرۍ بریالیتوب ته رسوي | ۱۲ |
| بیلانس تجارت چیست؟ | ۱۵ |
| د مضاربت شرطونه او ډولونه | ۱۸ |
| اقتصادي خبرونه | ۲۰ |
| د ګرځندوی صنعت او په اقتصادي وده کې د هغه مثبت رول | ۲۲ |
| دانش مالی و اهمیت آن در مدیریت اقتصاد خانواده ها | ۲۴ |
| ایجاد بازار مشترک، فرصت خوب برای اشتغال | ۲۷ |



بـــانـــــــــک

د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: صدیق الله خالد، جواد سداد او مفتي عبدالله آخندزاده

سرلیکوال: شفیق الله بارز

مسئول مدیر: حسیب الله نوري

خبریال: عبدالحفیظ شاهین

ډیزاین: خالد احمد فیضي

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

د چاپ او وېش مسئول: نصرت الله احمدزی

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af

د ثبت ګڼه: ۶۵۸



د مضمونونو او مقالو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



Da Afghanistan Bank-Youtube | twitter.com/AFGCentralbank | www.facebook.com/AFGCentralbank

# د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه

د افغانستان بانک د لومړي مرستیال ښاغلي نور احمد آغا پر مشرۍ د ۱۴۴۳ کال د شوال د میاشتې پر ۱۶ مه نېټه د افغانستان د بانکونو ټولنې او د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه جوړه شوه.

په دغه غونډه کې د بانکونو د امنیت ساتنې، خلکو ته پر وخت د غوره بانکي خدمتونو د وړاندې کولو، د پیسو د لېږد را لېږد او د یو شمېر نورو بانکي موضوعګانو په اړه خبرې اترې وشوې او د نظرونو تبادله تر سره شوه.

په یاده غونډه کې د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي نور احمد آغا یادونه وکړه چې د افغانستان بانک ژمن دی چې د سوداګریزو بانکونو ته اړینې آسانتیاوې رامنځته کړي، ترڅو یاد بانکونه له دې لارې خلکو ته غوره خدمتونه وړاندې کړي.

ښاغلي نور احمدآغا زیاته کړه چې د چارو د لا همغږۍ او پرمختګ لپاره به د افغانستان بانک او سوداګریزو بانکونو دا ډول غونډې دوام ولري.

د افغانستان د بانکونو ټولنې او سوداګریزو بانکونو استازو هم له خپله اړخه د درنو هیوادوالو لپاره د غوره بانکي خدمتونو د وړاندې کولو ژمنه وکړه.

باید وویل شي چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي عبدالقدیر احمد او د افغانستان بانک د بانکي چارو د څارنې لوی آمر ښاغلي عبدالرحمن قانت هم ګډون کړی وو.











# دیدار با نماینده ویژه اتحادیه اروپا برای افغانستان

محترم لطف الحق نور پسرلی مشاور ارشد اقتصادی د افغانستان بانک بتاریخ ۹ شوال ۱۴۴۳ با محترم تامس نیکلسون نماینده ویژه اتحادیه اروپا برای افغانستان دیدارنموده و در مورد مسائل مختلف مالی و بانکی گفتگو نمودند.

در این دیدار مشاور ارشد اقتصادی د افغانستان بانک در مورد وضعیت سکتور بانکی افغانستان و در زمینه اهمیت کمک های بشردوستانه از طریق سکتور بانکی صحبت کرد و از تعهد د افغانستان بانک مبنی بر فراهم آوری تسهیلات بیشتر بانکی اطمینان داد.

به گفته محترم پسرلی، ارائه کمک های بشردوستانه از طریق سکتور بانکی باعث ایجاد شفافیت شده، مطابق ستندرد های جهانی است و به نفع مردم افغانستان می باشد.

لازم به ذکر است که نماینده اتحادیه اروپا از همکاری های مالی و بانکی د افغانستان بانک تشکری نموده و بر تداوم روابط تاکید نمود.

باید یاد آور شد که در این دیدار محترم ناصر سهاک معاون نظارت بانکی د افغانستان بانک و هیئت همراه نماینده ویژه اتحادیه اروپا نیز حضور داشتند.

# په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام له مشر ښاغلي عبدالله الدرداري سره غونډه





په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام له استازو سره د ۱۴۴۳ کال د شوال د مياشتې پر ۲۱ نېټه غونډه جوړه شوه او د مالي او بانکي سکتور پر يو شمېر موضوعګانو په اړه خبرې وشوې.

په ياده غونډه کې د افغانستان بانک ستر اقتصادي سلاکار ښاغلي لطف الحق نور پسرلي يادونه وکړه چې د افغانستان بانک ژمن دی چې له ټولو ادارو سره د قوانينو او مقرراتو په رڼا کې غوره مالي او بانکي اړيکې ولري.

بايد ووېل شي چې په دې غونډه کې د راتلونکو برنامو لپاره پر لا ډېرې همغږۍ ټينګار وشو او دواړو خواوو له يو بل سره د همکارۍ ژمنې وکړې.

د يادونې وړ ده چې په دې غونډه کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام پر مشر ښاغلي عبدالله الدرداري سربېره له نوموړي سره مل پلاوي او د افغانستان بانک د بېلابېلو آمريتونو آمرينو او مرستيالانو ګډون کړی وو.




## د آیوفي (AAOIFI ) په کنفرانس کې د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو آمریت د استازو ګډون

د روان ۲۰۲۲ زیږدیز کال د مې د میاشتې پر ۱۵ مه او ۱۶ مه نېټه د آیوفي د شریعه بورډ شلم کنفرانس په بحرین هیواد کې جوړ شو چې په دې کنفرانس کې د افغانستان بانک د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو آمر ښاغلي دوکتور یوسف سلیم او د دې آمریت مرستیال ښاغلي مفتي عبدالله آخندزاده هم ګډون کړی وو.

په دې کنفرانس کې د نړۍ د بېلابېلو هیوادونو د اسلامي بانکوالۍ د برخې استازو ګډون کړی وو او د اسلامي بانکوالۍ د پرمختګ لپاره او په دې برخه کې د شته ستونزو د هوارۍ په اړه هر اړخیز بحثونه وشول.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو آمریت استازو په دې کنفرانس کې د آیوفي له مشر او عمومي منشي سره ولیدل او په افغانستان کې یې د اسلامي بانکوالۍ د ودې او پرمختګ په اړه له دوی سره هر اړخیز بحثونه تر سره کړل.

باید وویل شي چې په دې لیدنو کې آیوفي له خپله اړخه د افغانستان بانک سره د هر ډول همکارۍ ژمنه وکړه. آیوفي یو مخکښ غیر انتفاعي سازمان دی چې په ۱۹۹۱ زیږدیز کال کې د بحرین په هیواد کې تأسیس شوی دی، چې د نړیوال اسلامي مالي صنعت لپاره د شرعي او محاسبې د معیارو د ترتیبولو او خپرولو لپاره د نړۍ له بېلابېلو هیوادونو د شورا په نیت علماء په کې راټولیږي.

په دې ډول کنفرانسونو کې د افغانستان بانک د پلاوي ګډون د ډېر ارزښت وړ دی او له دې څخه په ګټې اخیستنې سره کولای شي چې د هغو هیوادونو چې د سوداګرۍ او بانکوالۍ سکتور پکې وده کړې ده له تجربو ګټه پورته کړي. افغانستان چې دا مهال د اسلامي بانکوالۍ د پراختیا لپاره هلې ځلې کوي اړتیا ده چې د دې ډول هیوادونو له لاسته راوړنو او تجربو ګټه پورته کړي.●

# ملي پولي واحد او په افغانستان کې د افغانۍ بانکنوټونو د چاپ تاریخچې ته لنډه کتنه



لیکنه: تاج محمد تمکین

پولي واحد د یو هیواد د هویت نمایندګي کوي، د پولي واحد کارېدنه سیاسي او اقتصادي ګټې لري چې د هر هیواد لپاره خورا مهمې دي. په نړۍ کې ټول هیوادونه هڅه کوي ترڅو خپل ملي پولي واحد باثباته وساتي او د همدې موخې لپاره له بېلابېلو پولي سیاستونو څخه کار اخلي. د یو هیواد لپاره ملي پولي واحد کارېدنه اړین ګڼل کېږي، د ملي پولي واحد د کارولو څخه ثابتېږي چې د یو هیواد پولي سیاست څومره اغېزمن او ښه لوري ته روان دی. په یو هیواد کې د ملي پولي واحد د کارولو له لارې په لاندې ډول یو شمېر ټکو ته اشاره کېږي چې د ملي اقتصاد په برخه کې اغېزناک تمامېدای شي.

- **د بهرنیو پولي واحدونو د کارېدنې مخنیوی:**

کله چې د یو هیواد پولي واحد باثباته او د وګړو لخوا په چټکتیا سره استعمالیږي، نو د نورو هیوادونو پولي واحدونه د اقتصادي جریان څخه بهر کېږي چې دا د یو هیواد د پولي ثبات لپاره ډېره اړینه خبره ده، څومره چې زمونږ خپل پولي واحد جریان ته د ننه کېږي په همغه کچه بهرني اسعار د جریان څخه بهر کېږي.

- **د یو هیواد پولي واحد د هغه هیواد ملی هویت او پېژندنه ده:**

د ملي پولي واحد بانکنوټونه ملي هویت ده. په دې مانا چې د یو هیواد د حریم پېژندنه په ملي بانکنوټونو سره کېږي، د بېلګې په توګه که په عادي ډول یو مثال ورکړو چې یو څوک داسې یو ځای ته لاړ شي چې هېڅ هغې سیمې سره بلدیت ونلري، خو چې په بازار کې د پیسو ډول وګوري، نو پوهېږي چې دا پیسه د کوم هیواد ده او په دې سره په پوهېدلای شي چې موقعیت یې چېرته دی.

»

یعني دا چې که یوه شي چې بازار کې هندۍ کلدارې چلیږي، نو اټکل کوي چې د هند په کومه سیمه کې دی او یا که یوه شي چې روسي روبل بازار کې مروج دي، نو اندازه لګوي چې د روسیې کومه سیمه کې یم، نو ځکه وېلای شو چې د هر هیواد پولي واحد د هغه هیواد ملي هویت تثبیتوي او دا ډېره اړینه ده چې د یو هیواد د حریم په ټولو بازارونو کې د هغه هیواد پولي واحد چلښت ولري.

• **د پیسو اقتصادي جریان:**

کله چې د یو هیواد پولي واحد په هیواد کې د ټولو وګړو له لوري هم مهاله کارول کیږي، نو د پیسو چټک اقتصادي جریان رامنځته کېږي چې چټک اقتصادي جریان د پیسو د اقتصادي فعالیتونو د چټکتیا لامل کیږي. د پیسو په جریان کې اچول دومره مهم دي لکه څنګه چې په بدن کې د وینې جریان مهم دی. که چېرته وینه په بدن کې جریان ونلري او د زړه له لوري پمپ نشي، نو دغه وینه د بدن لپاره بې فایدې ده، ځکه چې وینه د بدن په رګونو کې د جریان لپاره پیدا شوېده چې له امله یې ژوند د روغتیا سره دوام مومي، همدارنګه که چېرته پیسې په خزانو کې پرتې وي او جریان کې وانه چول شي، نو هېڅ فایده نلري.

پیسې د بازار غوښتنو ته په کتلو سره په جریان یا ګردښت کې اچول کېږي او ارزش ته په کتو یې په مقدار کې د دقیق مرور څخه وروسته اندازه کمېږي او زیاتیږي، دا بیا د یو مرکزي بانک په تصمیم پورې اړه لري چې څومره پیسې د پلان سره سم باید په جریان کې واچول شي او څومره را و ایستل شي. په هر صورت پیسې چې په جریان کې وي نو د اقتصادي پرمختګ د باثباتې لپاره ډېر ګټور او ښه واقع کیږي په دې معنا چې په خپلې پیسې د باور له کبله خلك د نورو اسعارور کارولو څخه منع کوي او د ډالرایزیېشن مخنیوی هم پرې کیږي او همدارنګه خپل ملي پولي واحد ته په معاملاتو کې د کارولو له لارې ارزښت ورکوي.

د یو پولي واحد داخلي او بهرنی ارزښت هغه وخت باثباته ساتل کېدای شي چې د هیواد وګړي پرې په کاروباري او سوداګریزو معاملو کې راکړه ورکړه وکړي او پیسې په ګردښت کې راولي، په ګردښت یا جریان کې د پیسو ساتل په اصل کې د پیسو هغه صفت ثابتوي چې پیسې د ټولو لپاره چې په ملي سرحداتو کې ژوند کوي، یوه پیسه ده.

همدا ډول د پیسو بهرنی ارزښت هغه وخت باثباته ساتل کېدای شي چې د داخلي ارزښت د ثبات له اړخه پیسې قوي واوسي، نو بیا د بهرنیو اسعارو د تبادلې په بازار کې هم د پیسو ارزښت ځواکمن پاتې کیږي.

• **د پیسو چلښت د پیسو سیالیت ښیي:**

د پیسو چلښت په هیواد کې دا مانا لري چې پیسې سیالیت لري. په دې مانا چې په هیواد کې خپلو پیسو ته انسان هر وخت لاسرسی پیدا کولای شي، دا د یو ښه پولي واحد صفت دی چې په جریان کې د موجودیت له برکته یې د هیواد ټول اتباع ورته لاسرسی پیدا کولای شي، خو که چېرته پیسې په ګردښت کې نه وي نو دا صفت د پیسو بیا د ملاحظې وړ ګڼل کیږي.

**د خپل پولي واحد د نه کارولو زیانونه:**

ملي پولي واحد چې کوم ځای کې نه کارول کیږي، نو په هغه ځای باندې د پولي سیاست د وسایلو اغېز هم نه وي، ځکه د پولي سیاست تأثیر په هغه ځای وي چېرته چې ملي پولي واحد کارول کیږي. لکه څرنګه چې پوهېږو د ملي پولي واحد د نشر او خپراوي مسولیت د مرکزي بانك پر غاړه وي او همداسې د پولي سیاست د جوړولو مسؤلیت هم

»

په مرکزي بانک پورې تړاو لري، نو ویلای شو چې پولي سیاست په هغه وخت کې ښه پایله ورکولای شي چې کله په تمامه مانا د عملي کېدو لپاره یې شرایط برابر وي.

برابر شرایط په دې مانا چې د یو هیواد پولي واحد د هماغه هیواد په خپل حریم کې چلښت ولري او د هغه هیواد خلک یې په خپله راکړه ورکړه کې وکاروي.

ملي پولي واحد د یو هیواد ملي هویت وي پدې مانا که چېرته په یوه سیمه کې ملي پولي واحد نه چلېږي، نو معلومېږي چې دغه سیمه په معنوي لحاظ زمونږ د ملي هویت څخه بهر کېږي.

د ملي پولي واحد د نه رواج بل زیان دا دی چې د حکومت حاکمیت تر پوښتنې لاندې راځي، ځکه د حکومت د حاکمیت په سیمه کې باید د هماغه حکومت پولي واحد جریان کې واوسي.

په نړۍ کې کاغذي پیسې د لومړي ځل لپاره په چین کې د ۶۱۸ او ۹۰۷ میلادي کالونو تر منځ رامنځته شوي دي، چینایانو په دغه برخه کې د سوداګرۍ د اسانتیا لپاره کاغذي بانکنوټونه رامنځته کړل.

د چینایانو څخه وروسته اروپا دویمه سیمه وه چې په سوداګرۍ کې یې د کاغذي پیسو څخه کار واخیست. او همدا شان ورو ورو دا سلسله د نړۍ ټولو هېوادونو وغځېده.

**د افغانستان د پولي واحد لنډه تاریخچه:**

په افغانستان کې لومړنی کاغذي بانکنوټ په ۱۲۹۸ هـ ل کال کې د غازي امان الله خان په دوره کې د یوې کابلي روپۍ په ارزښت چاپ شو. د دې پیسو په ښي اړخ کې د افغانستان دحکومت نښه ( محراب او منبر) او په منځ کې یې د اماني حکومت نښان او په کیڼ اړخ کې یې، (یک روپیه کابلی) عبارت په دري ژبې لیکل شوی وو. د دې پیسې په لاندینی برخه کې په دري لیکل شوي وو چې (در جمع خزانه های دولت، نوت هذا بمبلغ مندرج اش منظور است.) یو کال وروسته همدغه بانکنوټونه یو ځل بیا نوي چاپ شول ولې دا ځل یې په رنګ او سریال شمیره کې بدلون راغی، تر دې یو کال وروسته، بیا یک روپیه کابلی د سریال شمیرې پرته چاپ شول. په همدې کال کې جدا پیسې د ۵، ۵۰ او ۱۰۰ کابلي روپیو په شکل چاپ شول او تر ۱۳۰۴ هـ ل دغه پیسې مروجې وې. په ۱۳۰۴ هـ ل کال کې په افغاني پیسو کې سمونونه رامنځته شول او بعد له هغې نه د افغانستان پولي واحد د روپۍ نه افغانۍ ته تبدیل شو.

د حبیب الله خان کلکاني په حکومت کې (۱۳۰۷) هـ ل کال کې نوې پیسې خپرې شوې او هماغه د امان الله خان د وخت پیسو د نوي بادشاه په ځانګړې مهر سره جریان پیدا کړ، خو په دغه بانکنوټونو کې د حکومتي نښان په ځای کې د حبیب الله خان مهر ( خادم دین رسول الله ) حک شوی وو.

په کال ۱۳۱۲ هـ ل کې ظاهرشاه واک ته ورسېده او د افغان ملی بانک تأسیس شو. ددې بانک د تأسیس سره سم، د ظاهرشاه د دوران لومړنۍ پیسې چاپ او په ګردښت کې واچول شوې. دا پیسې د ۱۰۰،۵۰،۲۰،۱۰،۵،۲ افغانیو په بڼه خپرې شوې. په ۱۳۱۸ هـ ل کال د افغاني بانکنوټونو چاپ بلې مرحلې ته داخل شو. په دې کال کې د عبدالمجید زابلی په غوښتنه د (د افغانستان بانک) تاسیس شو او د افغانستان د دولت پانګه د افغان ملی بانک نه د افغانستان بانک ته انتقال شوه. په ۱۳۱۸ هـ ل کال دې بانک د اول ځل لپاره د ۲، ۵،۱۰،۲۰،۵۰،۱۰۰،۵۰۰،۱۰۰۰ افغانۍ بانکنوټونه چاپ کړل. په دې دوره کې مهم تغییرات په پیسو کې رامنځته شول

»

او د بادشاه انځور د پیسو په مخ بانـدې وراضافه شول.

د ظاهرشاه د وخت په پیسـو کـې د (دولت شاهی افغانستان ) د عبارت په ځای ( د افغانستان بانک ) عبارت اضافه شو. د نوموړي له وخت څخه مخکې تر ټولو باارزښته بانکنوټ ۱۰۰ افغـانـګـي وو اما د هغې نه وروسته ۵۰۰ او ۱۰۰۰ افغانۍ بانکنوټـونـه هـم چـاپ شـول.د سردار محمد داؤد خـان قـدرت تـه د رسېدو سره سم په ۱۳۵۲ هـ ل کې مهم وکاروی بدلونونه چې د پیسو په چـاپ کې رامنځته شول هغه دا وو، چې د شاهي پر ځای د جمهوري نښه اضافـه شوه او د لرې شوي شـاه پـه ځـای د سردار محمد داود خان انځور په نوټونو کې ځای په ځای شو.

د جمهـوري دورې پـه پـیـل کـې د (۱۳۵۲) هـ ل د ۱۰-۲۰-۵۰-۱۰۰-۵۰۰- ۱۰۰۰ افغاني بانکنوټونه پـه مـخـتـلـفـو رنګونو او طرحو سره چاپ شول.

د خلق او پرچم کمونیستي حکومت په دوره کې هم د افغانستان بانکنوټـونـه د مختلفو بـدلـونـونـو شـاهـدان ول. پـه پخوانیو دورو کې د حـکـومـتـونـو پـه بدلونونو سره دا یو دود ګرځېدلـی وو چې د وخت د حاکـم او یـا بـادشـاه انځور به په بانکـنـوټ بـانـدې عـلاوه کېده. اما د کمونیستي دورې په جریـان کې مهمتریـن بـدلـون دا وو چـې د بانکنوټونو څخه د وخت د حـاکـم یـا شاه انځورونه لرې شول.

د خلقیانو د حکومت پـه دوران کـې ( نور محمد تره کـی او حـفـیـظ الله امین) په کال ۱۳۵۷ هـ ل کې د (خلق) د حکومتي نښه په بانکنوټـونـو بـانـدې ځای ونیوه، ولې کله چې د پرچمیانـو حکومت راغی نو په کال ۱۳۵۸ هــ ل کـال کـې د لـومـړي ځـل لـپـاره دافغانستان د مرکزي بـانـک رسـمـي نښـان (د افـغـانـسـتـان بـانـک) پـه بانکنوټونو کې د حکومتي نښې ځـای ونیو.

دې میتود په وروستیو دورو کـې هـم ادامه ولـرلـه او تـر اوسـه پـورې پـه بانکنوټونو باندې د افغانستان د مرکـزي بانک (د افغانستان بانک) رسمي نښـان په بانکنوټونو کې ښکاري په افغانسـتـان کې د مجاهدینو د دورې له راتګ سره سم د لمړي ځل لپاره ۵۰۰۰ او ۱۰۰۰۰ افغانۍ بانکنوټونه هـم د نورو افـغـانـیـو سره یو ځای شول .

افغـانسـتـان کـې د اسـلامـي امـارت حکومت د لومړۍ دورې پرمهال نـوې افغانۍ چاپ نشـوې، خـو هـمـاغـه د مجاهدینو د دورې پیسـې دوران کـې وې. د اسلامي امارت د حـکـومـت د لومړۍ دورې څخه وروسته د وروستـي حکومت لومړي کال کې هـم چـې د مجاهدینو د وخت پیسو رواج درلوده.

تر ټولو مهم کار چې د نوې دورې پـه مهال ۱۳۸۱ هـ ل کال کې د پولي ثبـات او د انـفـلاسیون څـخـه د خلاصون پـه موخه واخستل شو، د زړو بانکـنـوټـونـو راټولول او د نوو پیسو چاپ وو، چـې یوه نوې افغانۍ د زرو زړو افغانیو سـره په ارزښت کې مساوي کېدله.

د افغانۍ بانکنوټونو په دغه دوره کې (۱-۲-۵-۱۰-۲۰-۵۰-۱۰۰-۵۰۰-۱۰۰۰- ) بانکنوټو څخه چاپ او چلـښـت لـپـاره ګردښت کې واچول شوې او تر اوسـه پورې د دغو بانکنوټونو څخه استـفـاده کېږي.

اوسمهال چې کوم افغانۍ بـانـکـنـوټـونـه جریان کې دي مرکزي بـانـک یـې د چاپ او معیار لپاره کـوټـلـي ګـامـونـه اخلي او د هـیـوادوالـو د اعـتـمـاد وړ ګرځېدلي دي.

---

اخذونه.

۱- تمکین، تاج محمد، په ختیځ زون کې افغانۍ ولې نه کارول کېږي د ماسترۍ تیزس، ۱۳۹۸ هجري شمسي، ننګرهار پوهنتون / ۲- د افغانستان بانک د پیسو د نشر او څارنې آمریت څخه لاسته راغلي معلومات

۳- En.m.wikipedia.org.wiki -٤ / www.investopedia.com



عبدالحفیظ شاهین

# چگونگی فعالیت بانکها و نقش آن در گسترش تجارت و رونق اقتصادی

در شرایط کنونی فعالیت های بانکی خیلی زیاد گسترش یافته و در واقع مفهوم بانکداری فرا تر از آنچه است که مردم فکر می کنند. حالا همه بانکها ساختار مشابه نداشته و برای اهداف واحد تأسیس نمی شوند. برخی برای سرمایه گذاری، تعدادی برای شرکت های صنعتی و بعضی برای تجارت ایجاد می گردند. در ذیل تعدادی از انواع بانکهای رایج را به معرفی می گیریم.

**بانک سرمایه گذاری:** این نوع بانک عبارت از یک موسسه مالی است که بیشتر اوقات با انجام معاملات اوراق بها دار بخاطر جذب سرمایه مشتریان خود اقدام می نماید. این نوع معاملات عبارت اند از معاملات اوراق مشتقه، معاملات ارز، تجارت کالا، خرید سهام، اوراق بها دار و غیره می باشند.

**بانکداری خرد:** این نوع بانکداری توسط نهاد صورت میگیرد که بدون شعبه بوده یا هم یک شعبهٔ از بانکهای تجاری یا دولتی را افتتاح نموده سپس به بر رسی حساب ها، ارائه کارت اعتباری، ارائه خدمات وام و باز نشستگی و غیره می پردازند. در سیستم بانکداری خرده، اتحادیه های اعتباری، بانک های ارائه دهنده وام و سپرده گذاران در ردیف بانکداری خرد قرار دارند. در شرایط کنونی با گسترش استفاده از انترنت در بخش های خدمات بانکداری آنلاین و دستگاه های خود پرداز، فعالیت بانکداری خرد کمتر شده، خرده بانک های کمتری در مکان فزیکی به فعالیت شان ادامه می دهند.

**بانک تجارتی:** بانک تجاریت عبارت از نهاد مالی است که با نگهداری سپرده ها و ارائه وام به مشتریان کسب درآمد کرده و در این عرصه خدمات مختلفی را به مردم ارائه می کند. خدمات بانک تجارتی مانند خدمات بانک خرد می باشد. تفاوت میان خدمات این دو نوع بانک این است که بانکهای تجارتی عموماً بر مشتریان تجارتی و وام های کوتاه مدت تمرکز دارند. مشاغل بانک تجارتی با سایر بانکها یک سان است. بانک های تجارتی

»

برخلاف بانکها سرمایه گذاری با استفاده از سرمایه های خود و درآمد حاصل از سرمایه گذاری به مشتریان وام می دهند.

در شرایط کنونی تفاوت میان اتحادیه های اعتباری، بانکهای تجاری، خرده بانکها و سایر مؤسسات مالی ارائه دهنده وام، ابهام وجود دارد. زیرا همه این نهاد ها مالی چنان به نظر می رسد که همه خدمات یکسانی را ارائه می کنند. در اصل تفاوت خدمات این بانکها در این است که مشتری از کار کرد بانک مورد نظر خود مطمئن شود.

در شرایط کنونی رقابت جهت بهبود کیفیت خدمات به عنوان یک مسئله راهبردی شمرده می شود. در عرصه اقتصاد نهاد های که به سطح بالا تری ارائه خدمات می کنند، سطوح بالاتری از رضایتمندی مشتریان را به عنوان مقدمه اساسی برای دست یابی به مزیت های رقابت پایدار می پندارند.

نظام بانکی نیز در اقتصاد مبتنی بر بازار یکی از اجزای مهم اقتصاد هر کشور محسوب میگردد. در شرایط کنونی بانکها برای رقابت در محیط متلاطم امروز نا چار اند تا توجه خاص به بخش های خدماتی خویش داشته باشند. خدمات بهتر سبب ماندگار بودن بیشتر مشتریان، جذب مشتریان جدید، بهبود عملکرد مالی و سود آوری می گردد.

در جریان دهه های اخیر، شدت گرفتن رقابت میان نهاد های مالی و اقتصادی بخاطر بدست آوردن سهم بیشتر از بازار توجه آنها را به سوی شناخت دقیق تر نیازمندی های مشتری سوق داده است.

موارد فوق با توجه به پیچیده شدن روز افزون سیستم های اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی به ذات خود اتفاق نمی افتد. بلکه به روش های نظام مند نیاز دارد که موارد فوق را به یک برنامه سازماندهی شده تبدیل کند. زیرا انتظارات مشتریان یک واقعیت انکار نا پذیر است بناءً باید مشخص گردد که یک مشتری چه می خواهد و بعداً در پی تحقق آن اقدام شود.

بانکداری و خدمات مالی یک بخش عمده و اساسی صنعت خدمات را تشکیل می دهد. چشم انداز خدمات مالی و بانکداری در جهان به سرعت در حال پیشرفت است. تغییرات ساختاری و تکنالوژیکی در راستای حرکت به سوی یک محیط بانکداری جهانی و یک پارچه در صنعت بانکداری در جهان به میان آمده است.

در شرایط کنونی بانکها با ارائه خدمات رقابتی و تجدید ساختار خدمات شان با استفاده از تکنالوژی سریع در جهت برآورده ساختن نیازمندی های در حال تغییر مشتریان، در حال گسترش و بیرون شدن از مرز ها می باشند. بناءً ماهیت خدمات بانکداری و ارتباط با مشتریان دستخوش تغییرات گردیده است که این امر بانکها را بسوی رضایت مشتری و بهینه سازی کیفیت خدمات شان سوق می دهد. در چنین شرایط بانکها دریافته اند که ارائه خدمات مستمر و با کیفیت برتر نسبت به رقبا می توانند مزیت رقابت نیرومندی را به ارمغان بیاورد.

بانکها در مجموع قادر اند تا زمینه رشد و توسعه را در کشور ها فراهم کرده و با اعطای وام های تجارتی، صنعتی و تولیدی، زمینه توسعه کشور ها را فراهم سازند. اساساً وظیفه بانکها در هر کشور حمایت و کمک به بالندگی های اقتصادی شان است.

منابع:

۱- تعیین ویژگی های خدمات بانکی / تاریخ نشر: سومین کنفرانس ملی مهندسی صنایع در سال ۱۳۸۳ / › https://civilica.com

۲- ویژگی یک "بانک" خوب چیست؟ - باشگاه خبرنگاران جوان / https://www.yjc.news

Types of Bank Services / https://www.iedunote.com › bank..



# د مسلکي پوهې او مالي سواد شتون، ستاسې سوداګرۍ بریالیتوب ته رسوي

حسیب الله نوري

دا یو څرګند حقیقت دی چې په نړۍ کې اوسمهال مسلکي پوهه او مالي سواد د کاروبار د بریا لپاره تر ټولو اړین شرط دی. څېړنې ښیي هغه کسان چې کاروبارونه یې بریا ته رسېدلي دي د مسلکي پوهې او مالي سواد کچه یې نسبت هغو کسانو ته چې بریالۍ سوداګرۍ یا کاروبارونه نه لري لوړه ده. بریالي سوداګران د ځان او خپلو کارکوونکو د مسلکي پوهې او مالي سواد د کچې لوړوالی د ارزښت وړ بولي او نه شتون ته یې د یو ستر ګواښ په نظر ګوري.

د یو بریالي کاروبار شاته تل د یو پوه با تدبیره او د مهارتونو لرونکي ځیرک کاروباري شتون حتمي دی. لیدلي به مو وي چې ډېرى سلنه کاروبارونه له پیل څخه لږ څنډ وروسته ماتې خوري او د کاروباري نړۍ سره د تل لپاره مخه ښه کوي تر ټولو ښکاره لامل یې د کاروباري پوهې او مالي سواد نه شتون

»

دی.

دا چې ډېری کاروبارونه له ناکامۍ سره مخ کیږي یاهم په ډېره کمه ګټه قانع پاتې کیږي او حتی د خپل کاروبار د ودې او پرمختګ په اړه فکر نه کوي، یوازینی دلیل یې د کاروبار د مالك په کاروباري نړۍ کې د اړینو او مسلکي زده کړو او مالي سواد نه شتون دی.

که چېرې تاسو د شخصي سوداګرۍ پیل کول غواړئ، اړیاست چې د اړوندې برخې مهارتونه، مالي پوهه او زده کړې ولرئ. په دې مقاله کې په لاندې ډول په همدې اړه معلومات وړاندې کیږي:

**لومړني معلومات را ټول کړئ**

د هر کار پیل په لومړي سر کې انګېزې ته اړتیا لري، که غواړئ چې یو نوی کاروبار پیل کړئ د کاروبار په اړه انګېزه پیدا کړئ، پلان ورته جوړ کړئ، د کار لپاره جواز تر لاسه کړئ، په مارکېټ کې د خپلو سیالانو په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

**د مالي سواد کچه مو لوړه کړئ**

په نننۍ نړۍ کې د مالي چارو مدیریت او د مالي سواد شتون د هرې سوداګرۍ لپاره ډېر اړین دی. د پیسو منظم مدیریت او ساتل کولای شي ستاسو بریا حتمي کړي. دا باید هېره نه شي چې مالي مسؤولیتونه د کاروبار تر پیل وړاندې پیل کیږي، تاسو اړیاست د کاروبار د پیل څخه د مخه خپلې پیسې او پانګه مدیریت کړئ. ښه به دا وي چې د کاروبار د پیل لپاره مو بېله بودیجه او حساب پرانیزئ، تر څو له دې لارې وکولای شئ هغه مقدار بودجه چې د کاروبارد پیل او دوام لپاره مو بسنه کوي د پیل څخه د مخه ولرئ، څو راتلونکي کې مو کاروبار له مالي اړخه ونه ګواښل شي.

**د بازار، پېرودونکو او پلورنې په اړه څېړنه**

د بازار موندنې لپاره پلان جوړول او په دې اړه د لومړنیو معلوماتو را ټولول ستاسو له کاروبار سره مرسته کوي او له دې لارې کولای شئ خپله سوداګري د سیالانو پر وړاندې و ارزوئ. همدارنګه دا چاره کولای شي ستاسو د پلورنې کچه لوړه او د پېرودونکو لپاره غوره چوپړتیاوې وړاندې کړئ.

**رهبري وکړئ او ټاکلې موخې تعقیب کړئ**

که ستاسو کاروبار لوی وي او یا هم ستاسو کوچنۍ سوداګري د پراختیا خواته روانه وي، نو تاسو نه شئ کولای چې په یوازې توګه ټولې چارې تنظیم کړئ. د دې لپاره اړیاست چې د ځینو چارو د پرمخ وړلو لپاره نور کارکوونکي په دندو و ګمارئ.

د کارکوونکو ساتل او پر هغوی کنټرول لرل او په دې ډاډمن کېدل چې د کمپنۍ چارې په عادي ډول روانې دي یو ځواکمن او په هر څه پوه مشرتابه ته اړتیا لري، تر څو وکولای شي کارکوونکي کنټرول او د شرکت چارې روانې وساتي. یو ښه کاروباري تل یو ښه رهبر وي او یو ښه رهبر تل خپل کارکوونکي کنټرول، تشویق او خوشحاله ساتي، څو له دې لارې وکولای شي د کمپنۍ په چارو او تولیداتو کې مثبت بدلون رامنځته کړي.

هېره دې نه وي چې یو ښه رهبر هغه څوك دی چې وکولای شي د خپل ځان، کمپنۍ او کارکوونکو موخې سره یوځای او کارکوونکي دې ته چمتو کړي، چې ټاکلو موخو ته تر هرڅه لومړیتوب ورکړي.

**اړیکې جوړې کړئ او خبرې وکړئ**

شاید تاسو د «خبرې وکړه چې

»

ګټونکی شې» کتاب لوستی وي. د دې کتاب له نوم څرګندېږي چې خبرې کول د ګټې کولو په معنا دي او په ژوند کې ډېرې بریاوې تر خبرو کولو وروسته پیلېږي. ساده بېلګه یې د یوې دندې لپاره د مرکې تر سره کول دي، په مرکه کې د دندې لپاره هغه کسان په دندو ګمارل کېږي او چانس یې ډېر وي چې پر ځای خبرې وکړي او د دندې اړوند پوره مهارت ولري. نو که تاسو هم غواړئ چې کاروبار مو بریا ته ورسېږي خبرې وکړئ. همدارنګه د بېلابېلو ادارو له اشخاصو په ځانګړې توګه د خپل کاروبار اړوند اشخاصو سره اړیکې وساتئ، ځکه دا چاره ستاسو د کاروبار د بریالیتوب لامل کېږي.

**چارې په ښه ډول سمبال او پلان ورته جوړ کړئ**

د یو بریالي کاروبار جوړولو لپاره کاروباریان اړ دي، تر څو ګڼ شمېر پروژې مدیریت او ورته پلان جوړونه وکړي. د خپلې کاروباري انګېزې لپاره د پلان جوړول، د پرمختګ په موخه یې ستراتیژیانې او ګڼ شمېر پالیسۍ جوړول او پلي کول، د خپلو شته سرچینو او وسایلو لکه(وخت، پیسې او کارکوونکو) څخه د اعظمي ګټې اخیستنې په اړه د کاروباریانو پوهاوی د کاروبار بریا حتمي کوي.

**د ستونزو د حل هنر زده کړئ**

که څه هم د پلان جوړول په کاروبار کې د ستونزو د رامنځته کېدو مخنیوی کوي، خو که هر څومره پلان جوړونه وشي بیا هم د چارو د پرمختګ پر مهال ستونزې رامنځته کېږي. د دې لپاره چې ستونزې پر وخت حل شي په کار ده هغه کسان چې نوي کاروبارونه پیلوي د ستونزو د حل هنر یې زده وي. معنی دا چې د ستونزو د حل په موخه غوره پرېکړې وکړای شي کاروباریان باید دا وړتیا هم ولري چې که چېرته حالات له کنټرول څخه بهر شي، دوی وکولای شي چې حالات د خپل کاروبار په ګټه کابو کړي.

**د زغم او حوصلې لرل**

بریالي سوداګر او کاروباریان پر دې باور دي چې په لوبه کې ماتې او بریا حتمي ده. دې ټکي ته په کتلو سره ویلای شو چې سوداګر باید پر دې پوه شي چې په سوداګرۍ کې ګټه په تاوان کېږي او د ګټې تر لاسه کول وخت ته اړتیا لري. دوی باید د ستونزو پر وړاندې حوصله ولري او د ماتې خوړولو، خو ماتې نه منلو پر وړاندې له زغم څخه کار واخلي.●

سرچینې:

۱- خپل سوداګریځنګه پیل او بریالي شئ: ۵ کلیدي نظرونه / https://ps.warbletoncouncil.org/como-fundar-empresa-tener-exito-1407

۲- کاروباري پوهه / https://ps.wikipedia.org/wiki

۳- څنګه کولای شو یو نامتو سوداګر شو؟/ لیکونکی: حکمت الله نظري / https://dawatmedia24.com/%D9%85%D9%82%D8%A7%D9%84%DB%90/107412/

# بیلانس تجارت چیست؟

عبدالحفیظ شاهین

بیلانس تجارت عبارت از نسبت درآمدی صادرات یک کشور به واردات آن است که بر ارزش پول ملی کشور ها نیز اثر گذار است.

بیلانس تجارت در بعضی موارد به عنوان صادرات خالص نیز یاد می شود. همچنان بیلانس تجارت یکی از مؤلفه های مهم سنجش توانمندی کشور ها در تأمین درآمد ارزی شان است که بر اساس آن درآمد بیشتر مصارف زیر ساخت های شان را تأمین می کنند.

به عبارت دیگر، بیلانس تجارت نتیجه خالص صادرات یک کشور است که در آن بیلانس مثبت بیانگر صادرات بیشتر و بیلانس منفی بیانگر واردات بیشتر خواهد بود. در این تعریف در صورتیکه صادرات بیشتر از واردات باشد به نام مازاد تجارت و مقدار منفی آن به نام کسر تجارتی یاد می گردد.

در واقع بیلانس تجارت یکی از مهمترین مسائل اقتصادی کشور ها است. سیاستگذاران اقتصادی کشور ها همیشه کوشش می نمایند تا بیلانس »



تجارت را همیشه در حالت تعادل نگهدارند.

به یاد داشته باشیم که بیلانس تجارت به خودی خود به وجود نمی آید. ما باید عوامل مختلفی را که روی آن اثر گذار است، در نظر داشته باشیم از جمله عوامل مهم آن می توان به موارد زیر مانند میزان عرضه و تقاضا، در دسترس داشتن ارز خارجی کافی بخاطر پرداخت واردات و غیره اشاره کرد.

بعضی اقتصاد دانان به این نظریه اند که سیاست ارزش پول یکی از راه های مؤثر برای مقابله با کسر تجارت پنداشته می شود. در چنین حالت با افزایش نرخ ارز، مخارج مصرف کنندگان از کالا های خارجی به کالا های داخلی منتقل شده و با افزایش صادرات و تقلیل واردات، بیلانس تجارت بهبود می یابد. این نوع طرز تفکر را کشور چین در سیستم اقتصادی خود در پیش گرفته است.

بعضی دانشمندان اقتصادی دیگر به این عقیده اند که در چنین حالت میکانیزم اثر بخشی نرخ ارز بر بیلانس تجارت مختل شده در آن صورت ارزش پول ملی بر بیلانس تجارت با ابهام روبرو می گردد که در چنین حالت، نه تنها افزایش صادرات به میان نمی آید بلکه در دراز مدت کاهش ارزش پول ملی آسیب زا و تورم زا خواهد شد.

از طرف دیگر بیلانس تجارت به عنوان یکی از عوامل تشکیل دهنده درآمد یا تولید ملی شده و مقدار مثبت آن نشان دهنده فزونی درآمد سرانه مردم می شود. در چنین حالت دولت ها به سمت توسعه اقتصادی و سرمایه گذاری در زیربنا ها حرکت می کنند.

شرایط سیاسی و اقتصادی کشور ها رابطه بسیار نزدیک و مستقیم با همدیگر دارند. ضعف هرکدام باعث ضعف دیگری می گردد. بیلانس تجارت بیان کننده نسبت درآمد از صادرات یک کشور در مقایسه با واردات آن است که بالای شرایط اقتصادی و ارزش پول یک کشور تأثیر فراوان دارد. از جمله عوامل مختلفی که بر بیلانس تجارتی تأثیر گذار می باشند شامل میزان عرضه و تقاضا، مالیات، وضعیت ارز، مصارف نیروی کار، موجودیت ارز کافی و غیره می باشند.

عوامل عمده دیگری که روی بیلانس تجارت یک کشور تأثیر دارند،عبارت از نرخ ارز است. نرخ ارز، یکی از مهمترین عامل مؤثر در بیلانس تجارت محسوب می شود.

منابع:
۱- https://www.researchgate.net / PDF) The relationship between the exchange rate and the
۲-تراز تجاری چیست؟ شبکه اطلاع رسانی طلا و ارز / تاریخ نشر: ۲۰ / ۴/ ۱۳۹۷ / ttps://www.tgju.org › articles



# د امریکایي ډالرو د منلو په اړه د افغانستان بانک خبرتیا

د امریکایي ډالرو د منلو په اړه د افغانستان بانک د هغه لارښوونې په تعقیب چې د ۱۴۰۰/ ۰۹ / ۰۴ نېټه د (۳۹۶۴) ګڼې مکتوب له لارې خپره شوې ده او د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء د اقتصادي کمیسیون د ۱۴۴۳ هجري قمري کال د شعبان په ۱۳ نېټه چې د ۲۵/۱۲/۱۴۰۰ لمریز کال سره برابره ده، د (۱۲) شمېرې مصوبې پر بنسټ داسې لیکو چې د مالي او بانکي خدمتونو د وړاندې کولو د ښه والي په موخه هغه ډالري بانکنوټونه چې د لاندې ځانګړتیاوو لرونکي وي، د افغانستان بانک د منلو وړ نه دي.

۱ - هغه ډالر چې د ۱۹۹۶ لمریز کال څخه وړاندې چاپ شوي وي.

۲ - هغه ډالر چې څیري او سکاشټیپ شوي وي.

۳ - هغه ډالر چې د بې احتیاطی له کبله یې بڼه بدله شوې وي او قات قات شوي وي.

۴ - هغه ډالر چې سوځېدلي وي او یا یې د سوځېدنې له کبله رنګ ژېړ شوی وي.

۵ - هغه ډالر چې رنګ پرې پاشل شوی وي.

۶ - هغه ډالر چې امنیتي نښان یې له منځه تللی وي او د حساب او چک کولو پر مهال د شمېرنې ماشینونه پرې آوازونه کوي.

د یادونې وړ ده چې د امریکایي ډالرو نور بانکنوټونه او له ۱۹۹۶ کال را هیسې چاپ شوي بانکنوټونه چې زاړه له کاره لویدلي نه وي او د پورته ځانګړتیاوو لرونکي نه وي په ټولو بانکونو، صرافیو او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو کې د منلو وړ دي.

نو پر همدې بنسټ بانکونه، صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي اړ دي چې په خپلو پولي راکړو ورکړو کې هغه وکاروي.



# د مضاربت شرطونه او ډولونه



په اسلامي بانکونو کې ډېری حسابونه د مضاربت پر بنسټ پرانیستل کېږي. مضاربت ته قراض او معامله هم ویل کېږي. د دې اطلاق د کاروبار په هغه صورت کېږي په کوم کې چې د یو شخص چا ته چې رب المال (د مال څښتن) ویل کېږي پانګه وي او بل شخص چا ته چې مضارب یا عامل ویل کېږي پر دې پانګه سوداګري کوي.

له دې سوداګرۍ چې کومه ګټه تر لاسه کېږي پدې کې دواړه په خپل منځ کې په ټاکل شوي تناسب سره شریک وي.

لکه څرنګه چې امام نووي رحمة الله علیه فرمایلي دي:

((القراض والمضاربة ان یدفع الیه ما لا لیتجر فیه و الربح مشترک)) [المنهاج: کتاب القراض ج ۱ ص ۲۲۹]

یا په بل عبارت کله چې څوک پیسې ولري، خو په سوداګرۍ کولو نه پوهېږي یا په نورو چارو بوخت وي او غواړي چې خپلې پیسې په کار واچوي، د داسې خلکو لپاره اسلامي شریعت د مضاربت معامله روا ګرځولې ده.

مضاربت د مال په شرکت باندې تړون دی چې د یوه شریک له لوري مال او د بل له لوري به عمل وي، مضاربت یوازې په هغه مال صحیح دی چې شرکت ورباندې صحیح وي.

د مضاربت په عقد کې به ګټه مشاعه وي، په دې بنسټ که یو لوری د ځان لپاره معلوم شمېر ګټه وټاکي د بېلګې په ډول ووایي: په ګټه کې به لس زره افغانۍ زما وي. د داسې شرط په کېښودلو سره عقد فاسدېږي ځکه چې دا ډول شرط شرکت پرې کوي، یعني کېدای شي ټوله ګټه همدا معلوم شمېر پیسې وي او بس.

د مضاربت لپاره دا هم شرط ده چې د مال څښتن به مال د مضارب په واک کې ورکوي او دی پکې د لاسوهنې حق نه لري څو مضارب پکې پخپل زړه تصرف وکړي.

**د مضاربت ډولونه**

**مطلق مضاربت:**

هغه مضاربت ته ویل کېږي چې مضارب ته مال ورکړل شي، خو د کومې ځانګړې سوداګرۍ، ځای او وخت قید نه وي پکې. په مطلق مضاربت کې مضارب کولای شي چې په خپله خوښه پېرل او پېرودل وکړي، د سوداګرۍ لپاره بل ځای ته سفر وکړي او یا وکیل ونیسي.

**مقید مضاربت:**

مقید مضاربت هغه دی چې مضارب ته مال ورکړل شي، خو د مضارب سوداګري د ځانګړي ښار، د سوداګرۍ ځانګړو توکو او یا پر ټاکلي وخت پورې محدوده شي. په مقید مضاربت کې مضارب د ټاکل شویو حدودو څخه تېری نشي کولای.

**مضاربت په لاندې شیانو له منځه ځي:**

۱ .د مال د څښتن او مضارب هر یوه په

»




مړینه د مضاربت عقد باطلیږي، ځکه د مضاربت عقد په وکالت ولاړ دی او د شخص په مړینه د هغه وکالت له منځه ځي یعني د عاقدینو په مړینه د مضاربت اساس له منځه ځي.

۲ .د مال د څښتن په مرتد کېدو او دارحرب ته په تللو هم د مضاربت عقد له منځه ځي. د شخص ارتداد د شریعت له مخې د مړینې په حکم کې دی له همدې امله یې مال خپلوانو ته په میراث ورکول کیږي.

۳ .مضاربت د مضارب په عزل کولو له منځه ځي. که د مال څښتن مضارب عزل کړي، خو مضارب له خپل معزولیت څخه په ناخبرۍ کې شیان واخلي او خرڅ یې کړي، نو د مضارب تصرفات صحیح او نافذ دي، د مال د څښتن له خوا د مضارب عزل کول هغه مهال د مضارب په تصرفاتو بندیز لګوي چې مضارب له خپل معزولیت څخه خبر شي.

که د مضاربت رأس المال دینار وو او د عزل په مهال د مضارب سره راس المال د درهمو په بڼه موجود وو، نو کولای شي چې درهم په دینارو بدل کړي، ځکه په ګټه کې د دواړو لورو د برخې د معلومولو لپاره دې ته اړتیا ده چې رأس المال په هغو پیسو واړول شي چې عقد پرې رامنځته شوی و.

سرچیني:

۱- د مضاربت تعریف او ډولونه/ تعلیم الاسلام ویبپاڼه / https://www.taleemulislam-radio.com/bashpar.php?id=7182

۲- نن ټکی آسیا/ استاذ عنایت الله عادل / https://www.nunn.asia/129803

۳- مضاربه چیست / https://vakilsaya.ir/%D9

۴- The Essential Element of the Contract of "Mozaribah" in the Islamic Law and Iranian Civil Law/ Mohammad IssaeiTafreshi/JalileGhanavatikhalf Abadi2

https://clr.modares.ac.ir/article-20-7863-en.html

# اقتصادي خبرونه

**په ۱۴۰۱ کال کې څه ناخه ۸۲۰ زره دولتي کارکوونکي د ملي بودجې له لارې معاش ترلاسه کوي**

د افغانستان اسلامي امارت نن د ۱۴۰۱ مالي کال بودجه او د دولتي ادارو تشکیلاتي جوړښت اعلان کړ.د باخترآژانس د خبرله مخې په هغه مطبوعاتي کنفرانس کې چې د ماليې په وزارت کې جوړ شوی و، په هغه کې د ریاست الوزرا اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي او د افغانستان اسلامي امارت یو شمېر سرپرست وزیرانو ګډون کړی وو.

په دې کنفرانس کې د ریاست الوزرا اداري مرستیال ملي بودجه د دولت د پالیسۍ د تطبیق یوه وسیله وبلله او ویې ویل چې د افغانستان اسلامي امارت له واکمنۍ او د نظام له بدلون وروسته د بېړنیو حالاتو په نظر کې نیولو سره د مالي کال د مهالوېش په بدلون سره، دری میاشتنۍ مالي بودجه (مرغومي، سلواغې ، کب) د کورنیو عوایدو پر بنسټ او د بهرنیو له مرستې پرته ترتیب او پر بنسټ یې د ټولو دولتي کارکوونکو معاشونه ورکړل شول.

مولوي عبدالسلام حنفي زیاته کړه چې د ۱۴۰۱ مالي کال ټوله بودجه ۲۳۱.۴ میلیارده افغانۍ ټاکل شوې چې له دې جملې څخه ۲۰۳.۴ میلیارده افغانۍ عادي بودجه او ۲۷.۹ میلیارده افغانۍ پراختیایي بودجه ده.

هغه څرګنده کړه چې د هېواد د محدودو مالي سرچینو له امله کلنۍ پراختیایي بودجه یوازې پر هغو پروژو لګول کېږي چې د نورو پروژو په پرتله د عوایدو له پلوه ډېرې مهمې دي او له اقتصادي اړخه د خلکو پر ژوند مستقیم اغېز لري.

مولوي حنفي زیاته کړه چې د ۱۴۰۱ مالي کال لپاره هدف ۱۸۶،۷ میلیارده افغانۍ او د سږني کال د بودجې کسر ۴۴.۷ میلیارده افغانۍ اټکل شوی دی.

دریاست الوزرا اداري مرستیال وویل چې د معاشونو او ادارو د تنظیم کمېسیون له جوړېدو وروسته د هېواد د ژغورنې او پر ځان بسیاینې په موخه د ټولو دولتي کارکوونکو معاشونه او نور امتیازات وڅېړل شول چې د هغه له مخې د لوړ پوړو چارواکو، قراردادي کارکوونکو(NTA) او سوپر سکیل معاشونه او امتیازات چې پخوا ډېر لوړ وو، کم شوي او د ټیټ رتبه مامورینو په معاشونو کې کوم بدلون نه دی راغلی.

په همدې حال کې حنفي د روغتیا او پوهنې په برخو کې د تشکیل د زیاتوالی خبر ورکړ او ویې ویل چې په ۱۴۰۰ مالي کال کې د پوهنې وزارت په تشکیل کې ۲٦۵ زره بستونه موجود وو، چې په ۱۴۰۱ کال کې، دا شمېره ۲۴ زره بستونو په زیاتېدو سره ۲۸۹ زره بستونو ته لوړه شوې ده.

مولوي حنفي دغه راز په ۱۴۰۱ کال کې په دولتي ادارو کې د قراردادي

»

(NTA)او بالمقطع کارکوونکو په شمېر کې د کمښت اعلان وکړ؛ خو یادونه یې وکړه چې په دولتي ادارو کې د ظرفیت ټیټګښت په موخه به د دغو کارکوونکو د استخدام لپاره هڅې وشي.

هغه وویل چې د ۱٤۰۱ مالي کال بودجه له کورنیو عوایدو څخه تمویلېږي چې له غیرضروري لګښتونو او د قیمتي توکو د پېرلو مخه نیول شوې ده.

باید وویل شي، چې د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته دا لومړی ځل دی چې د هیواد ملي بودیجه د بهرنیو مرستندویانو له مرستې پرته له کورنیو عوایدو تمویلېږي.

**توزیع معاش کارمندان دولتی افغانستان به زودی آغاز می‌شود**

وزارت مالیهٔ امارت اسلامی افغانستان می‌گوید که قرار است روند توزیع معاش کارمندان دولتی به زودی در سراسر افغانستان آغاز شود.احمد ولی حقمل، سخنگوی این وزارت به خبرگزاری دولتی باختر گفت که تلاش‌های آنان در این مورد جریان دارد و با تخصیص معاشات ادارات، این روند تا چند روز دیگر شروع خواهد شد.

او افزود: "وقتی بودجه در سیستم جابجا شد، در تطبیق آن هیچ مشکل نمی باشد و موضوع معاشات هم تقریباً حل است و کوشش ما همین است که معاش هر ماه بعد از تاریخ۲۰ همان ماه به کارمندان دولتی پرداخت شود".

این در حالی است که هفته گذشته حکومت امارت اسلامی افغانستان بودجهٔ سال مالی۱۴۰۱ خورشیدی را تصویب کرد که مجموع این بودجه به ۲۳۱ میلیارد افغانی می‌رسد. وزارت مالیهٔ امارت اسلامی افغانستان به تاریخ ۱۴ می (۲۴ ثور) گفت که از این میان، حدود ۲۰۳ میلیارد آن بودجهٔ عادی و ۲۷.۹ میلیارد آن بودجهٔ انکشافی می‌باشد.

وزارت مالیه افزوده است که این بودجه به گونهٔ "کامل از عواید داخلی افغانستان و بدون کمک کشورهای خارجی" تمویل می‌شود که در این سال، ۴۴ میلیارد افغانی کسر بودجه وجود دارد.

در جریان دو دهه گذشته، اقتصاد افغانستان بیشتر بر کمک‌های خارجی متکی بود و در حدود ۷۵ درصد بودجه حکومت پیشین را نیز جامعه بین‌المللی پرداخت می‌کرد.

مجموع بودجهٔ سال ۱۴۰۰ خورشیدی حکومت پیشین افغانستان، بیش از ۴۷۳ میلیارد افغانی بود که از این میان، بیش از ۳۱۱ میلیارد افغانی آن بودجه عادی و بیش از ۱۶۱ میلیارد افغانی بودجهٔ انکشافی بود.

سرچینې:

1- باختر خبري آژانس /https://bakhtarnews.af/



# د ګرځندوی صنعت او په اقتصادي وده کې د هغه مثبت رول

د توریزم صنعت په نړیواله وېشنه کې د نفتو او موټر جوړلو وروسته د ډېر عاید لرونکو صنعتونو په لیکه کې راځي. دا صنعت په نړۍ کې د هرې ورځې په تېرېدو سره د ارزښت وړګرځي او د هیوادونو د اقتصادي پایښت لپاره لاره هواروي.

د افغانستان ستراتیژیک موقعیت او د هیواد ۵۰۰۰ کلن تاریخ ته په کتو سره دا هغه هیواد دی چې د توریزم او نړیوال سیاحت له اړخه خورا ډېرې اقتصادي ګټې ترلاسه کولای شي.

د دې ترڅنګ په افغانستان کې پراخه غرنۍ سیمې، خوږې او رواڼې اوبه څنګلونه او د موسمونو بدلون هغه څه دي چې هیواد ته یې طبیعي ښکلا ورکړې او سیلانیان دېته هڅوي چې افغانستان ته راشي او دا هیواد له دې لارې په لویه کچه عواید تر لاسه کړي.

یو وخت افغانستان خپله ډېره بودجه د سیلانیانو له راتګه برابروله او سیلانیاتو ته هم تر ټولو ښه ځای افغانستان ؤ، خو د وخت په تېرېدو او په افغانستان کې جنګونو دا فرصت له موږ څخه واخیست. دا چې اوس په هیواد کې ډاډمن امنیت رامنځته شوی دی او د جګړې لمن ور ټوله شوې ده، دې برخې ته پاملرنه کولای شي د هیواد په اقتصادي رغښت کې مثبت رول تر سره کړي.

»

د ګرځندوی صنعت کولای شي په هیواد کې د فقر د کچې په راکمولو کې مرسته وکړي او د ډېر شمېر هیوادوالو لپاره د بېلابېلو کاري فرصت په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړي.

که دې برخې ته پاملرنه وشي له یوې خوا به ډېرو هغو کسانو ته د کار فرصت شي چې سیلانیانو ته خواړه، مصرفي توکي او د لوبو، سیل او ترانسپورت اړوند وسایل برابروي، له بلې خوا به په هیواد کې د کرنیزو توکو بازار ته هم فرصت برابر شي. د دې ترڅنګ د افغانستان لاسي صنایع، وچې او تازه میوې هم په نړیوال مارکېټ کې ښه نوم پیدا کولای شي.

د نړۍ ډېر مخ پر ودې هیوادونه چې طبیعي زېرمې او نور تولیدي توکي نه لري دوی هڅه کوي چې د نړۍ د سیلانیانو پام ځانته را جلب کړي، له همدې امله دوی توانېدلي چې خپل اقتصاد په پښو ودروي.

**د ګرځندوی صنعت د ودې لپاره څه باید وکړو؟**

د ګرځندوی صنعت په پرمختګ کې د تاریخي آبداتو معیاري رغونه د هیواد په کچه د طبیعي جذابو سیمو د سیاحت لپاره د اړینو سهولتونو رامنځ ته کول چې د ګرځندوی په صنعت کې بنسټیز رول لري باید د اوسنۍ عصري ټیکنالوژۍ پر مټ د هیواد په کچه د طبیعي زرغونو سیمو او لرغونو ساحو او آبداتو څخه

په ایچ ډي کیفیت سره مستندې ویډیوګانې جوړې او د هر ډول رسنیو په مټ د داخلي او بهرنیو سیلانیانو د جذب په موخه خپرې شي.

هغه سیمې چې ملي پارک کېدای شي په نښه او وروسته د سیلانیانو لپاره پکې بنسټیزې زیربناوې جوړې او د خصوصي سکتور سره په همغږۍ د هر ډول اړینو سهولتونو لپاره کړ کار وشي.

که مو په دې برخه کې اړوندې ادارې کار وکړي د یاد صنعت پیاوړتیا به هیواد په اقتصادي وده کې زیاته ونډه ولري او له دې سره مل به د ملي عوایدو زیاته برخه په کور دننه پوره او زیات شمېر هیوادوالو ته به بېلابېلو برخو کې کاري فرصتونه رامنځ ته او فقر کچه به تر یو حده راکمه شي.

معلومات ښیي چې په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې د سفر او سیاحت له لارې ۴.۷ ټریلیون امریکایي ډالر د نړۍ په ناخالص عاید کې ور زیات شوي دي.

د یادوني وړ ده چې دافغانستان د توریزم سازمان په ۱۳۵۴لمریز کال کې د نړۍ د ۱۰۲ هیوادونو په څنګ کې د توریزم نړیوال سازمان غړیتوب ترلاسه کړ. د ایران، پاکستان، بنګله دیش، هندوستان، سریلانکا، مالدیو او نیپال تر څنګ افغانستان هم د آ سیا د جنوب د کمیسیون دفعال غړي په حیث ګام کېښود او په افغانستان کی یې د توریزم د صنعت د پراختیا په برخه کې د لازمو آسانتیا وو زمینه برابره کړه چې له دې لارې یې ښه عایدات تر لاسه کول او افغانستان یې د تمدن، تاریخ، فرهنګ، لرغو او فرهنګي میراثونو له اړخه نړیوالو ته ور وپېژاند.

په ۱۳۵۰ هجري ل کلونو کې ګرځندوی صنعت دعایداتو او بهرنیو اسعارو د بدلولو (تباد لې) مهمه سرچینه جوړوله او د کال شااوخوا ۹۰۰۰۰ څخه تر ۱۲۰۰۰۰ سیلانیانو له افغانستان څخه لیدنه کوله.

د داسي یو اباد هیواد په هیله چې په هره برخه کې پر خپلو پښو ولاړ وي او د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه خلک د سیاحت په موخه راشي او ټول هیوادوال مو یو باعزته ژوند ولري.

---

سرچینې:

١- افغانستان و صنعت توریسم / http://www.dailyafghanistan.com/opinion_detail.php?post_id=126502

٢- د افغانستان توریزم / https://tourism.gov.af/pashto/

٣- په افغانستان کې د توریزم صنعت او اقتصادي اړخونه / https://muhassileen.com/

۴- Tourism / https://www.britannica.com/topic/tourism



# دانش مالی و اهمیت آن در مدیریت اقتصاد خانواده ها

عبدالحفیظ شاهین

دانستن اقتصاد خانواده به معنی مدیریت سالم منابع خانواده است. منابع محدود اما قابل دسترس خانواده عبارت از منابع و راه های درآمد خانواده است. این درآمد محدود و قابل حصول می باشد. در مقابل نیاز های خانواده قرار دارد که خیلی ها متعدد است. در این عرصه آنچه اساس اقتصاد خانواده را تشکیل می دهد، عبارت از موجودیت ارتباطات درونی و نقش های شغلی و خانوادگی است. درک ارتباطات درونی یک خانواده همان شاه کلید اقتصاد خانواده می باشد.

شیوه مدیریت اقتصاد خانواده ها بخش عمده زندگی را تشکیل داده و باعث رونق اقتصادی، ترقی و شکوفایی زندگی میشود. مدیریت اقتصاد خانواده دو جنبه اساسی دارد. اول مدیریت درآمد خانواده ها از طریق بدست آوردن رزق حلال، دوم مدیریت مصارف از طریق دستیابی به الگو های مصرف صحیح است.

خواسته های نامحدود خانواده ها در برابر منابع محدود باعث می شود که باید خانواده ها از میان خواسته های خود انتخاب بعمل آورند. زیرا نیاز به انتخاب در تمام سطوح زندگی خانواده ها وجود

«



دارد. بهترین و اقتصادی ترین انتخاب برای خانواده ها از نگاه اقتصادی همان انتخابی است که بیشترین رضایت خاطر را به خانواده به بار آورد. بناءً لازم است تا خانواده ها با کسب دانش و فراگیری اصول علمی اقتصاد خانواده، بهترین تصمیم ها را به منظور دست یابی به اهداف بهتر اقتصادی و زندگی مرفه اتخاذ نمایند.

پایه گذاری اقتصاد یک خانواده در گرو داشتن یک برنامه خوب اقتصادی آن خانواده است. خانواده محل اصلی پایه ریزی و شکل گیری برنامه های اقتصادی شمرده می شود. هرچه الگوی مصرف خوب تر باشد علاوه بر فواید شخصی منافع اجتماعی خوبتر را نیز در پی دارد.

الگوی مصرف در خانواده به مجموعه از اقلام مصرفی که شامل کالا، خدمات و ترکیبی از کیفیت و کمیت آنها است که شامل درآمد و موقعیت اجتماعی بوده، بر اساس نگرش های اجتماعی و جغرافیایی شکل می گیرد. اصطلاح خانواده را می توان به عنوان تهداب اقتصادی یک جامعه شمرد ومراحل اولیه توسعه مبتنی بر اقتصاد خانواده می باشد.

در گذشته، قبل از صنعتی شدن، تکنالوژی محدود و بدون تغییر بود. در آن زمان بیشتر فعالیت های اقتصادی در داخل خانواده ها صورت می گرفت. تولید و توزیع بر اساس عرف و سنت در حرکت بود. اقتصاد خانواده ها در آن وقت ارتباط با تولید و پیوند های

»

خانوادگی داشت، خانواده ها تهداب تولید را تشکیل می داد.

در شرایط کنونی اقتصاد خانواده به ما کمک می کند تا بتوانیم بین منابع درآمد و مخارج تعادل بر قرار کنیم. موفقیت در اقتصاد خانواده نیاز به همکاری همه اعضای خانواده دارد. تمام اعضای خانواده باید آگاهی لازم در مورد برنامه ریزی دخل و خرج شان داشته باشند.

دانش اقتصادی خانواده را کمک می کند تا بتواند بین مخارج و درآمد تعادل ایجاد نموده و منابع مالی مناسب با نیاز های ضروری و غیر ضروری خود را سازماندهی و خوب مدیریت کند. دانش مدیریت اقتصادی در خانواده جزو ارکان خوشبختی، موفقیت، رشد اقتصادی و شکوفایی خانواده محسوب می گردد.

در شرایط کنونی منابع مالی یک خانواده متوسط فقط می تواند تعداد محدودی از خواسته های اعضای آنرا تأمین کند. در چنین حالت باید اولویت های خانواده مد نظر گرفته شده، برخی خواسته های تجملی خواسته های ضروری شان نماید.

اگر انتخاب ها با درآمد خانواده مطابقت نداشته باشد، باید آنقدر تغییر کند که با توجه به در آمد شان به بهترین انتخاب برسد. در این صورت بهترین انتخاب خانواده عبارت از انتخابی است که بیشترین مطلوبیت را داشته باشد. بهترین مطلوبیت در این مورد عبارت از آن است که هم اقتصادی باشد و هم رضایت خانواده را با خود داشته باشد.

دانش اقتصادی در اقتصاد خانواده های کم درآمد که دخل و خرج شان با هم سازگاری ندارد از اهمیت فراوانی برخوردار است. اگر این برنامه در داخل خانواده های که درآمد کم دارند به درستی مدیریت نشود منجر به افزایش مصارف خانواده می شود.

شناخت فُرصت ها و تهدید ها برای تمام اعضای خانواده مهم است، این موضوع باید در داخل خانواده همیشه مطرح شود تا در مورد آن همه اعضای خانواده متوجه بوده آگاهی حاصل نمایند، در صورت مشوره با اعضای فامیل سطح دانش اقتصادی خانواده بالا رفته و می توانند تصمیم خوبتر اخذ نمایند.

در صورت مراعات نمودن موازنه دخل و خرج، امکان دارد استعداد و دانش اقتصادی فرزندان رشد کرده و با انجام فعالیت های اقتصادی بخشی از بار خانواده را کاهش داده و قسمتی از نیازمندی های خود شان رفع نمایند. خانواده های که مشکلات اقتصادی دارند به فرزندان شان نباید اجازه دهند تا به سنین جوانی مصرف کننده باقی بمانند. خانواده ها می توانند با آموزش صحیح مسیر حرکت اولاد های شان را به سمت کمک به اقتصاد خانواده هدایت کنند. ●

---

منابع:

۱-اقتصاد الأسرة – العربیة / تاریخ نشر: ۱۸ / ۱۱ / ۱۳۹۸ / https://www.alarabiya.net

۲- Family economy – Wikipedia / https://en.wikipedia.or

۳-چطور اقتصاد خانواده را مدیریت کنیم / تاریخ نشر: ۱۹ / ۲/۱۳۹۸ / https://www.eghtesadonline.com



# ایجاد بازار مشترک، فرصت خوب برای اشتغال

بخاطر افزایش فعالیتهای اقتصادی مشترک بین چندین کشور، بازار مشترک مانند پلی است که آنها می توانند توسط این پل بازار های بزرگتری را برای تولیدات، محصولات و رونق اقتصادی شان تشکیل دهند. یا به عبارت دیگر این بازار عبارت ازپیمان ها، روابط اقتصادی مشترک میان دو یا چند کشور با حذف محدودیت ها، موانع و کاهش تعرفه های گمرکی بخاطر افزایش مبادلات به صورت متقابل ایجاد می شود.

بازار مشترک اروپا مهمترین بازار اشتراکی است که بخاطر تولید سرمایه و ثروت در این قاره فعالیت نموده که نه تنها برای فعالین اقتصادی بلکه برای همه شهروندان این کشور همیشه ثمر بخش می باشد.بازار مشترک، مراودات تجارت بین کشورهای عضو را بیشتر ساخته که تبع آن سطح فعالیت های اقتصادی شانرا نیز افزایش می دهد.

بازار مشترک باعث از بین رفتن انحصار تولید و عرضه محصولات شده، متعاقباً بازار رقابتی را به میان می آورد، در پرتوی آن شرکت ها در عرضه و فروش محصولات خود قیمت های مناسبی را انتخاب می کنند. با صفر شدن تعرفه

»

های گمرکی در میان کشور های شامل بازار مشترک می توان برخی از اقلامی را که توان تولید پایین در کشور مبدأ را ندارد با قیمت مناسب در میان کشور های عضو با قیمت مناسب تر فراهم گردد. بازار مشترک نه تنها برای سرمایه گذاران منفعت زا بوده بلکه برای طبقات پایین جامعه هم ایجاد شغل و درآمد زایی می کند.

همگرایی و بازار های مشترک اقتصادی در سطوح مختلف برای آزاد سازی و آسان سازی مبادلات، نقل و انتقال عوامل تولید، کاهش مصارف، سالم سازی بخش های مختلف اقتصادی، هموار کردن مسیر رشد و توسعه اقتصادی به عنوان یک ضرورت اقتصادی پیگیری می شود.

بازار های مشترک تنها مکانی برای تجارت نمی باشند، بلکه بازار مشترک می تواند باعث توسعه اقتصاد شهری و روستایی شده آنها را به هم پیوند دهد. بازار های مشترک، ارزش املاک را افزایش داده، فرصت های شغلی کم خطر و مناسب را برای اهالی آن منطقه مهیا می سازد.

همچنان بازار های مشترک از افزایش دسترسی به مواد خام، مواد غذایی سالم و تازه گرفته تا فراهم آوردن منابع درآمد برای مردم از ارزش فراوان برخوردار است، در ضمن مردم را از جوامع مختلف از نظر قومی، فرهنگی، اجتماعی و اقتصادی دور هم جمع می کند.

این مکان ها فضای خیلی خوب و شگفت انگیز عمومی را در جهت ایجاد فرصت های شغلی برای مردم بخصوص برای گروه های اقلیتی، مهاجرین و غیره به آسانی مهیا می گرداند. افراد و اشخاصی که توانایی جسمی و مالی بخاطر کار کردن در سایر جا ها را ندارند، می توانند با صرف کمترین مصارف کار خود را با جابجایی غرفهٔ کوچکی آغاز کنند و یا به سایر جا ها به ساخت و ساز و ایجاد چنین غرفه ها اقدام کنند. آنها می توانند بدون گرفتن قرض به پول اندک به کار و بار شان ادامه دهند.

در این اواخر، در روستا ها و شهر های تمام کشور های جهان تراکم نفوس روز به روز بیشتر شده می رود. در همچو شرایط بازار های مشترک یکی از مهمترین مکان های است که مردم از تمام گروه های قومی، اجتماعی، اقتصادی، و سنی دور هم جمع می شوند.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:

۱- بازار مشترک منطقه‌ای مشکلات افغانستان را حل خواهد کرد: تاریخ نشر: ۲۴/ ۱۲ / ۱۳۹۴ / https://www.etilaatroz.com

۲- بازار مشترک اروپا، استفاده بهینه از کار و سرمایه بین المللی/ تاریخ نشر: ۱۹ / حمل / ۱۳۹۳ / https://per.euronews.com ›

۳- Subscription Marketing Strategies You Should Implement / https://fastspring.com



# د تازه مېوو د صادراتو لپاره پر وخت اقدام اقتصادي وده رامنځته کوي

دا چې په هیواد کې د تازه میوو موسم را رسېدونکی دی دولت ته په کار ده چې په دې برخه کې د بېوالو لپاره اړینې آسانتیاوې رامنځته کړي، څو بېوال وکولای شي پر وخت سره خپلې مېوې او نور کرنیز محصولات تر بهرنیو بازارونو ورسوي.

په هیواد کې د سړو خونو او بازارونو نشتون هغه څه دي چې بېوال د تازه میوو د رسېدو په موسم کې له ستونزو سره مخ کوي، که په دې برخه کې اړینې آسانتیاوې رامنځته شي او بېوال وکولای شي چې پر وخت سره خپلې تازه مېوې او نور کرنیز محصولات تر نړیوالو بازارونو ورسوي افغانستان به له دې لارې ډېر عاید تر لاسه کړي.

د افغانستان تازه مېوې او نور کرنیز محصولات په نړیوالو بازارونو کې ښه نوم لري. که دا مېوې پر وخت سره تر نړیوالو مارکېټونو ورسېږي کولای شي د بېوالو په ژوند کې مثبت اقتصادي پرمختګونه رامنځته کړي او افغانستان ته له دې لارې د اسعارو د راتګ زمینه برابره شي.

په تېر کې په دې برخه کې شته ستونزې د دې لامل شوې وې چې بېوال د میوو او نورو کرنیزو محصولاتو د تولید پر مهال اړ شي چې خپل کرنیز محصولات په ټیټه بیه وپلوري او یا هم د دوی کرنیز محصولات خراب او له منځه لاړ شي.

له بهرنیو هېوادونو سره د ترانزیت په برخه کې آسانتیا، د هوایي دهلېزونو بیا فعالېدل، د سړو خونو جوړېدل او په کور دننه او بهر د تازه میوو او کرنیزو محصولاتو لپاره د بازار موندنه هغه څه دي چې کولای شي په دې برخه کې شته ستونزو ته د پای ټکی کېږدي.

باید وویل شي چې افغانستان ته له هرې اصولي لارې د اسعارو راتګ د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره ګټور دی او دا چاره کولای شي له افغانستان سره د پولي سیاست د پلي کېدو په برخه کې مرسته وکړي.



# اطلاعیه د افغانستان بانک در مورد پذیرش دالرهای امریکایی

به تعقیب نامه نمبر (۳۹۶۴) مؤرخ ۰۴/۰۹/۱۴۰۰ رهنمود خویش در مورد پذیرش دالر های امریکایی و به تأسی از مصوبه شماره (۱۲) مؤرخ ۲۵/۱۲/۱۴۰۰ ه ش مطابق ۱۳ شعبان ۱۴۴۳ ه ق کمیسیون اقتصادی مقام محترم ریاست الوزرای امارت اسلامی افغانستان ، مینگاریم که بمنظور بهبود عرضه خدمات مالی و بانکی بانکنوت های دالر که دارای مشخصات آتی هستند مورد پذیریش د افغانستان بانک نمی باشند.

۱ – دالر های که تاریخ آن قبل از سال ۱۹۹۶ باشند.

۲ – دالر های که پاره شده و اسکاشتیپ شده باشند.

۳ – دالر های که روی شکل آن از بین رفته و از اثر بی احتیاطی بشکل قات قات در آمده باشند.

۴ – دالر های که حریق شده یا از اثر سوختگی رنگ تغییر کرده یا زرد رنگ شده باشند.

۵ – دالر های که بالان آن رنگ پاشیده شده باشند.

۶– دالر های که علامت امنیتی آن از بین رفته باشد و هنگام شمارش و چک نمودن زیگنال ماشین های شمارش را به صدا در آورند.

قابل ذکر است که سایر بانکنوت های دالر امریکایی و دالر های چاپ بعد از سالهای ۱۹۹۶ که کهنه و فرسوده و دارای مشخصات فوق الذکر نباشند، قابل چلند بوده و در تمام بانکها و صرافی ها و عرضه کننده گان خدمات پولی قابل پذیرش میباشند، بناً بانکها، صرافان و عرضه کننده گان خدمات پولی مکلف اند تا در داد و ستد پولی شان از آن استفاده نمایند.







# لیتیوم افغانستان وسیله ارز آوری و رشد اقتصادی کشور


لیتیوم علاوه بر اینکه به حیث یک عنصر اصلی در تکنالوژی ذخیره انرژی سبز استفاده میشود، در ساخت بطری، تیلیفون همراه، صنایع نقلیه الکترونیکی، لب تاپ، انواع ماشین ها، تکنالوژی هسته ای، کمپیوتر، طیاره های بدون سرنشین و غیره مورد استفاده قرار می گیرد که با توجه به این نیاز مبرم، لیتیوم افغانستان می تواند در آیندهٔ نزدیک مانند نفت به سرعت به یک محصول استراتیژیک این کشور تبدیل شود.
در اثر نظر سنجی های که در سال ۲۰۱۰ میلادی از طرف محققین امریکایی صورت گرفته نشان میدهد که ارزش لیتیوم افغانستان که در ولایت های هرات، غزنی و نیمروز پراکنده می باشد، ارزش سه تریلیون دالر را دارد. همچنان نهاد انرژی جدید بلمبرگ که نهاد ارائه دهندهٔ تحقیقات استراتیژیک کالا های جهان است می گوید که موجودیت لیتیوم زیاد و استفاده نشده در افغانستان رقابت میان امریکا و اتحادیهٔ اروپا را در آینده افزایش خواهد داد.
یکی از اعضای سروی زمین شناسی امریکا در سال ۲۰۱۰ میلادی گفته بود که اگر در افغانستان در جریان چند سال آینده امنیت تأمین شود و در پرتو آن منابع معدنی بخصوص لیتیوم استخراج گردد، افغانستان در مدت زمان اندک به کشور ثروتمند منطقه مبدل می گردد.
بناءً افغانستان در صورت استفاده درست از منابع لیتیوم می تواند در آینده نه چندان دور از نگاه اقتصادی رشد سریع داشته و در بخش اقتصادی و رفاه از کشور های صادر کننده نفت پیشی گیرد. کشور های بزرگ مانند چین و روسیه و امریکا به عنوان تولید کننده ای در حدود نیمی از تمام تولیدات صنعتی جهان در انتظار دریافت لیتیوم افغانستان هستند. در شرایط کنونی که فساد در برنامه های اقتصادی مانند گذشته بیداد نمی کند. اگر لیتیوم کشور بصورت شفاف استخراج شده و به کشور های بزرگ صنعتی جهان صادر گردد، می تواند برای مردم شغل دایمی ایجاد نموده و در ضمن بهترین و شفاف ترین وسیله برای ارز آوری و رشد اقتصادی کشور گردد.
با ورود اسعار بابت صدور لیتیوم به کشورهای نیازمند خارجی، افغانستان می تواند در امر تطبیق سیاست های پولی خود نیز موفقانه عمل کند.



بانکونه ستاسو د پیسو د ساتنې او سپما لپاره تر ټولو خوندي او قانوني ځایونه دي. د افغانستان بانک تل هڅه کړې ده چې د درنو هیوادوالو لپاره مالي او بانکي آسانتیاوې برابرې کړي. درنو هیوادوالو اوس تاسو کولای شئ چې په بانکونو کې حساب پرانیزئ او یا هم په خپلو حسابونو کې پیسې زیاتې کړئ او هر وخت چې وغواړئ له هغې څخه کار اخیستلای شئ. که تاسو د افغانستان بانک د خبرتیا له خپرېدو وروسته چې په ۱۲ / ۸ / ۱۴۰۰ نېټه خپره شوې ده، په بانکونو کې خپلې پیسې سپما کړئ او یا هم په جاري حسابونو کې پیسې ور زیاتې کړئ، کولای شئ خپلې پیسې له کوم محدودیت پرته په بشپړ ډول تر لاسه کړئ او یا یې هم بل حساب ته ولېږدوئ.

په یاد ولرئ، چې ستاسو پیسې له بانکونو سره خوندي او د امانت په ډول ساتل کیږي.





### د اسلامي بانکوالۍ بنسټیز اصول او ځانګړتیاوې:

اسلامي بانکوالي د شریعت د مالي اصولو په اساس ولاړه ده؛

په اسلامي بانکوالۍ کې د ټکټاني په بڼه د ګټې تر لاسه کول او ورکړه شتون نه لري؛

د دواړو خواوو (بانک او پیرودونکي) ترمنځ د اسلامي بانکوالۍ معاملې د دوه اړخیزې هوکړې په روڼتیا او ښکاره توګه ترسره کیږي؛

په ناڅرګندو او مبهمو سوداګریزو معاملو (بیع الغرر) باندې پانګه اچونه منع ده؛

پر هغو محصولاتو او خدمتونو باندې چې ذاتاً حرام دي لکه، د الکولي مشروباتو او د خوګ د غوښې او د داسې نورو په تولید او سوداګرۍ باندې پانګه اچونه منع ده؛

په معاملو کې فریب او احتکار منع او بند دي.

---

### خصوصیات و اصول اساسی بانکداری اسلامی:

بانکداری اسلامی به اساس شراکت در فایده و ضرر استوار می باشد.

در بانکداری اسلامی دریافت و پرداخت منفعت به شکل تکتانه وجود ندارد.

معاملات بانکداری اسلامی میان طرفین ( بانک و مشتری) بر مبنای تفاهم جانبین و به صورت واضح و شفاف صورت می گیرد.

سرمایه گذاری در معاملات تجارتی نا معلوم و مبهم ( بیع الغرر) ممنوع می باشد.

سرمایه گذاری در محصولات و خدماتی که ذاتاً حرام اند، مانند تولید و تجارت مشروبات الکولی و گوشت خوک حرام و امثال آن منع می باشد.

فریب و احتکار در معاملات منع و مردود است.

# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک
سال پانزدهم شماره ۱۷۸ شوال ۱۴۴۳ ( ثور ۱۴۰۱)



## ګرانو هیوادوالو!

**د هیواد د نورو ملي ارزښتونو په څېر له افغانۍ ملاتړ وکړئ او په خپلو ورځنیو راکړو ورکړو کې د افغانۍ په کارولو سره د دغه د ټیکاو او ارزښت د ساتلو لپاره په ګډه هڅه وکړئ.**